**ليکونکې : بونی کریستین (Bonnie Kristian)**

**منبع اود خپریدو نیټه : فارن پالیسي «۲۰۱۶-۹-۲۳».**

**ژباړونکې : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .**

---



بونـی کریستین (Bonnie Kristian)

## په افغانستان کی د دموکراسی جوړونه په واقیعت کی دامپراتوری د فساد جوړونه دي

*Building Democracy in Afghanistan Actually Built An Empire of corruption*

**دامریکی دمتحده ایالاتوهڅی اواند دافغانستان د بیا رغوني د پاره پخپله د فسا د اود تبیعض پالنی دیو نوي رپوټ موندل دي .**

د نړیوال دشفا فیت اداره هرکا ل د نړی له سرتا سره د ملی فسا د کچه اودهریوهیواد د

نمری محاسبه اویا دهغه هیواد سکور(score) چي عبارت د مطبوعا تو له آزادي ، مالی شفافیت اود قانون حا کمیت دی د مید یا د لاری پواسطه سره نشر ته سپا ري .



دیادونی وړ مطلب دا چي د (۱۶۸ ) هیوادونو له جملی څخه په نړی کي د(۱۶۶) هیوادونو درد یف په اخرنی برخه کی د افغانستان دهیواد نوم لیکل شوی اودا د ډیر خجالتی اودخواشینی ځای دي چي دهر (۱۰) افغانانو له جملی څخه (۶) افغانان د خپل کا ر ونود ترسره کولو د پاره دافغانستان دولتي مامورینو ته بډه اورشوت ورکوي کوم چی په دی هیواد کی د(۲۰۰۷) څخه بیا تر(۲۰۱۰) پوری د فساد اود بډی ورکولو کچه څو برابر زیات شوی دي اوس داسی په ډاګه شوی چي په دي جنګ ځپلی او په حال دوده نادار هیواد کی یواځی د بډی ورکول اود فساد انتظار نه وړل کیږی بلکه دلته په ستروبید (یوډول درمل دی چي دالتهاب اود پړسوب دله مینځه وړلو د پاره د طبابت په ځانګه کي پکار وړل کیږي ) اودامریکی دمتحده ایالاتو دنوشا بي پر تولیداتو با ندي هم د فسا د اود بډی ورکولو اوبډی اخسیتلو لمن پراخه شوی دي .

څه شي زمونږدمداخلي څخه ترلاسه شو؟ : ترلاسه شوی شي یا لاسته راوړنه دیو نوی راپور پا یلی او نتیجه دي کوم چي د افغانستان د بیا رغوني په اړین د سیګا ر(SIGAR) ځانګړي عمومی مسول پلټونکي د خپل د زده کړی درسونه اودخپل

دسترګو دحال لید نې اولاسته راوړنې په نوموړي راپورکې په ډاګه کوي اوداسې وايي:
هغه څه چې ما دخپل درسونو دزده کړه څخه ترلاسه کړ هغه دادي : چې د امریکی متحده ایالات په افغانستان کې دڅو لمړیو کلونو له مداخلې څخه وروسته داداری فسا د اودبډی اخیستو اودبډی ورکولو خطری اونا وړی پایلی ته پام وانړول او دغه نا وړي پدیدی ته په کم نظر وکتل او یوزیا ت مقدار پیسې دغیر ځوابګو قرارداد یا نو اودهغو محلی ټیکه دارانو اوپیما نکارانوپه حسا بونوکی تمویل اوحواله کړیا دهغو په اختیار کی واچول اودا پخپله په افغانستان کې دفساد په اړین دامریکی دمتحده ایالاتو دلمړي مداخلې څخه څه د باندې یوه نیم لسیزه وروسته په یوه لمړیتوب (اولویت ) موضوع با ندې واغوښت اما ترهغه چې امریکی پردغه موضوع با ندې پیژند ګلوی تر لاسه کړای وای اود فساد سره مبارزه کړای وای ډیر زمان تیر شوی وه اود ضد فساد دسیاستونو د پلی کولو دپاره ډیر ناوخته شوی وه .
زمونږ راپور داسی را په ډاګه کړ چې د فساد لمن په افغانستان کې له کال (۲۰۰۱) څخه را هیسی ډیر پراخه غوړید لې اودهر کا ل په تیریدوسره دهغه لمن لاپسې دغوړیدو په حال کی وه نوپه دې اړین دسیګار داداری ځانګړي سرمفتش ښاغلي **جان سا پکو** (John Sopko) پخپل یو وروستنی لنډ وینا کې داسې څرګند کړ[دامریکی دمتحده ایالاتو دملت جوړونې هڅی اواند ] دافغانستان د پاره د سیستمیک فسا د کچه او دهغه لمن په قضا ، پوځ ، پولیس ، بانکونه اودافغانستان په نورو حیاتی ادارو او رسمی د فترونو کی زیات او لا پسې وغوړول .
بی پرده باید وویل شې چې واقیعت دادي اوهغه داچی فساد په افغانستان کې له کال (۲۰۰۱) څخه را په دې خوا د افغا نا نو د پاره د ورځنی ژوند په یوه معمولی عا د ت اغوښتې دی او هغه داچې فسا د په افغانستا ن کې د فرهنګي چال وچلند اویا دفرهنګي نګرش له مخې یواځی په یوه نیم تیر لسیز کی په ډرامتک کچې زیا ته شوی اوهغه داچې بډی اخیستنه یا فسا د د لمړی ځل د پاره شرمونکی ښکاریده اما په اوس وخت کې په ضمنی بڼی سره دفساد اویا درشوت قبلول اویا دهغی سره مخا مخ کید ل په ټولنه کې دیو ضروری شر په څیر تبد یل شوی دي کوم چې دغه موند نه په ډیر سختې سره حیرانونکی او تعجب آور دي اوهغه داچې دا به یوتکان (شوک) وي که چیری فساد د سیګا ر د توضیحی او توصیف شوی اسنادو اودشرایطو په نظرکې نیولو سره پورته شوی ونه اوسې.
دامریکی متحده ایالات د افغا نستا ن د اقتصا د د بهبودی د پا ره په بیلونونو ډالر د پیما نکارانو اود قرارداد یا نو اودقانون ماتونکو دزورواکانو په ملګرتیا سره د ناقص نظارت اوغیرمسولانه قیمومیت لاندی پانګونه اوترزیق کړل په دی راپور کې راغلی دي : په افغانستان کې په کال (۲۰۱۲) د پیسو لګښتونه اویا مصارفات خپل لوړي څوکې ته رسید لی وه اوهغه دا چې ددی پیسو زیا ته برخه یعنی (۱۹ بیلونه ډالر) په افغانستان

کي داوباما داداری د دفاعی کارمندانو د دندو د تر سره کولو د پاره په مصرف ورسید کوم چي دغه مقدار پیسی دافغانستان دتول داخلی تولید ناخالص (۹۳) سلنه جوړوی بی ویلو دی پا تی نشی چی ددغه اندازی پیسی ډیر برخه دافغانستان په دننه کی دپیمانکارانو سره په قرارداد کی نه دی مصرف شوی نو دهمدی اصل په نظر کي نیولو سره دسیګا ر دپلټنی ځانګړی سرمفتش دافغا نستا ن د بیا رغونی په اړین وایي چي دغه مقدار پیسی د افغانستان دمحلی اقتصاد دودی اودهغه د بهبودی د پاره تمویل شوی اویاځانګړی شوی وه چی باید د افغانستا ن د محلي ادارو په مرسته سره محلی اقتصاد وده کړای وای اما متا سفا نه هرڅومره چي ددي منظور دپاره افغانستان ته پیسی و لیږل شو په همغه اندازه ددموکراسی دپلی کولو پرځای فساد په افغانستان کی وده وکړاوخپل ځانته لاره پیدا کړ .

**دامریکی د متحده ایالاتو دما لیی ورکونکو پیسي په رفیقا نه میلمستیا و کی مصرف کیږی نه د ښونځیو په آبادی کي :** له دی نه لا هم بد تر اوهغه داچي دامریکي دمتحده ایالاتوواکمنانو دوحشی اوحیوان صفتو اودغیرقابل اعتماد اواطمینان جنګ سالارانو سره مرستي ترسره کوی اوبیا په ځانګړي بنی سره دامریکي دمتحده ایالاتو داطلاعاتو ( سی آی ای ) کارمندان په کابل کی دافغانستان دجمهور ریس په دفتر کي د نقد و ډالرو بوجی ځای پرځای کوی اودفساد پیشه اود بدی اخیستونکي دادرس په پیدا کولو کي پاتي راځی اوخپل بیګا نګي اوعدم علایق د محلی خلکو سره ښکاره کوي او یا دا چی دیو شفاف او عادلانه دولت د پلی کولو دپا ره خپل نا توانی اوکمزورتیا څرګندوی اویا له هغه څخه اغماض کوی لکه دبیلګي په توګه اوهغه داچي په یوه ځای کی تقریباً د(۴۵) میلیون ډالرو حساب اودهغه دمصرف سندونه له ښودلو څخه ډډه کوی اویا هغه پیسی په ورکو کی شما ری حال داچي د ا مریکی د متحده ایالاتو مالیی ورکونکو ته وعده سپارل شوی وه چي د تاسو پر پیسو با ندی په افغانستان کی مکتبو نه رغول کیږی او د افغانستان دانجنو اودهلکا نو په آموزشی برخه کی بهبودی او یو لړ اصلاحات به پلی کړل شی حال داچي متا سفا نه فساد اوبډی په افغا نستا ن کی دتعلیم ا و د تربیی مخه هم ونیول او فساد بیشه ګا نو په افغانستان کی یو شمیر متزلزل او په حا ل د ړنګید و ښونځی دڅو محدودو هلکانو او دیوشمر کمو انجنو دپاره جوړ کړ چی هره ګړی د هغو ښونځیو دساختما نونو د چپه کید و انتظار وړل کیږی.

دلته اوس په افغانستان کي دهریو پروګرام او طرحي څخه دستونزی او دپرابلم بیخ او جذرلوی اوغټ دي کوم چی دهغه ریشه دبیرحمی په بارونو تینګ شوی دی او امریکی دی باید خپل ځان ددی اوړدی مودی اشغال څخه چي دیو کوچنی ملت او خلکو څخه کوم چی په یوه ناهیلو ماتي او نا کامی سره مخامخ شوی دي ځان ګوښه کړی او ددی هیواد له اشغال څخه لاس پرسرشي او په دي افسا نوی مقدار پیسی سره دی خپل تصور او اند بیښنی ورغوی اویا دخپل ناروغ اوپه مرض با ندی اخته ماغذه درمل او تداوی کړي نودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره د سیګار (SIGAR) داداری ځانګړي

*سرمفتش په شپړو درسونو کي (۱۶) سیا سیی توصیی د خپل میندونو او لاسته راوړنو څخه په دماغي ناروغي سره اخته سیا ستوالو ته وړاندی کوی او په مصرانه بڼی سره ټینګا ر کوی چی دغه توصیي باید پلي شی اما متا سفا نه چی دغه توصیی ته چا غوږ نه نیسی اویا دهغه سره خپل بیګا نګي ښکاره کوي هو : یو د دی نصیحتونو څخه دادي چي واشنګټن با ید د خپل بهرنیو پیما نکارانو اود هغو دلاس پوڅی څخه ښه وترنري وکړي اویا داچي دامریکي متحده ایالات د خپل تهاجمی ما تي سیاست باندی په بشپړه بڼی له سره کتنی وکړی او هغه داچي په افغانستان کی فساد اوبدی نه یواځی داچي ومنو چی زمونږ دامریکا یا نو د مداخلی پا یلي دی بلکه با ید ومنو چی نور له زیا تو سر په سرغلطیو اواشتباها تو څخه ډډه وکړو اوواشنګټن دغه موضوع کم ترکمه په همغه اندازه چي په کابل کی نظاره کوی د لته په د ننه کی هم پری کتنه وکړی اولکه* ***دبینی کریستین*** *(Bonnie Kristian) په شا ن د لمړیتوبونو څخه دفاع وکړي -* ***بونی کریستین*** *هغه یواځنی او کمیا ب او بی جوړه منتقد ژورنا لست او لیکو نکی دی کوم چی دهغه لیکنی اومقا لی داوني په اطلاعا تی ، تایم ، پولیتیک ، اړوند اودامریکی د محافظه کا ر په مجلو او په ځنی نورو رسنیو کی خپریږي .*

------------------------------------------ **په درناوی ۲۰۱۶-۹-۲۸**